# مریض طبیب جوړ شو

پښتو

شیخِ طریقت، اَمیرِ اَہلسنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

دا مضمون د کتاب ”نیکی کی دعوت“ صفحه 341 تا 357 نه اخستے شوے دے.

# مریض طبیب جوړ شو

دُعائے عطار: یاربَّ المُصطفیٰ! څوک چې دا رساله ”مریض طبیب جوړ شو“ اولولي یا واوري هغه ته د ګناهونو د بیمارئ نه شِفا ورکړې، د جَهنَّم نه ئې اوساتې او جَنَّتُ الْفِردَوس ته ئې بے حسابه داخل کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: چا ته چې څه مشکل پیښ شي، هغه ته په ما باندې کثرت سره دُرُود شریف لوستل پکار دي، ځکه چې په ما باندې دُرُود شریف لوستل مصیبتونه او بلاګانې لرې کوونکے [عمل] دے.

(القول البدیع، ص 414، بستان الواعظین لابن لجوزی ص 472)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نیکئ دعوت ورکول د خاموشئ نه غوره دے

د ژبې آفتونه بے شمیره دي او دې نه د بچ کیدو بهترینه طریقه هم دا ده چې په ژبه **قُفلِ** مدینه اولګولے شي، یعني بنده دِ د خاموشئ عادت جوړ کړي، البَتَّه څوك چې د ژبې د خطاګانو نه د بچ کیدلو په طریقه پوهیږي او د شریعت د عین تقاضو مطابِق د خبرو کولو قدرت لري د

هغه د پاره د **نيکئ دعوت** ورکول د خاموشئ نه ډير زيات افضل عمل دے. لکه څنګه چې د **خَاتَمُ الْمُرسَلِين، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دے: که تاسو اَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهْىٌ عَنِ الْمُنْكَر (يعني د نيکئ حکم ورکول او د بَدو نه منع کول) اوکړئ نو دا د خاموشئ نه ډير زيات غوره دي. (شُعَبُ الايمان ج6 ص92 حديث 7578)

## د ثواب کيدو اُمِّيد

**حضرت** سَيِّدُنا ابو الدّرداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زه نورو ته د نيکئ حکم کووم او ځپله اګرچې هغه کار نه کووم خو بيا هم زه د **الله تعالیٰ** نه د اجر راکولو اُمِّيد لرم. (کنزُالعُمَّال ج3 ص270 رقم 8438) يعني چې کله مې چا ته د نيکئ حکم ورکړے دے نو زما ثواب شوے دے اګرکه هغه کار زه ځپله نه هم کووم.

## د قبر د رڼرا سامان

**الله** پاک حضرت سَيِّدُنا موسٰی **كليمُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي اُوفرمائيله: "**د خير** [يعني د نيکئ] **خبرې ځپله هم زده کوه او نورو ته ئې هم زده کوه، زه به د خير** [يعني د نيکئ د خبرو] **د زده کوونکو او ښودونکو قبرونه روښانه کووم چې هغوئي ته د هيڅ قِسمه ويره نه وي.**"
(حِلْيَةُ الاولياء ج6 ص5 رقم 7622)

## دَ مُبَلِّغينو قبرونه به اِنْ شَآءَالله پرقيږي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د دې روايت نه د نيکئ د خبرې د زده کولو او ښودلو اجر او ثواب معلوم شو. د سُنَّتو ډك بيان کوونکو يا درس ورکوونکو او اَوريدونکو خو به مزې شي، اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيْم د هغوئي قبرونه به د دننه نه پرقيږي او هغوئي ته به د هيڅ قسم ويره نه وي. په **اِنفِرادي کوشش** کولو د **نيکئ د دعوت** ورکوونکو، د سُنَّتو د تربيَّت په **مَدَني قافلو** کښې د سفر کوونکواود **ځپلو اعمالو** د جائزه اخستلو په ذريعه د "**د نيک اعمالو**" د رسالے هره ورځ د

ډېرو ترغِيب ورکونکو او د سُنَّتو ډکي اجتماع د دعوت ورکونکو او د مُبَلِّغينو د نيکئ دعوت اوريدونکو قبرونه به هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نور په خاطر نُورٌعَلٰى نُور وي.

قبر ميں لہرائيں گے تا حشر چشمے نور کے　　جلوہ فرما ہوگی جب طَلعَت رسول اللہ کی

(حدائقِ بخشِش شريف)

**شرح کلامِ رضا:** اے عاشقانِ رسول! خوشحاله شئ !کله چي د **الله** تعالیٰ **محبوب**، د عرب تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مومن په قبر کښي د خپل نُوراني ځليدونکي مبارك مخ نُور ښکاره کړي، نو په قبر کښي به رنړاګاني شي او تر قيامته پورې به په قبر کښي د نور چيني ځليږي.

اندھيرا گھُپ اندھيرا ہے شہاوَحشت کا ڈيرا ہے
کرم سے قبر ميں تم آؤ گے تو روشنی ہو گی　(وسائلِ بخشِش ص280)

توري تيارے مي دي په قبر کښي خوږې آقا　　رنړا به شي که تاسو راشئ او کرم اوکړئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!　❁❁❁　صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰى مُحَمَّد

## مريض پخپله طبيب شو

**حضرت** سَيِّدُنا ابوبکر شِبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل بيمار شو. خلقو په **شِفاخانه** کښي داخل کړو. د هغوئي د يو عقيدتمند وزير **علـی بن عيسٰی** په درخواست باندې خليفۀ بَغداد د شاهي دربار نَصراني (يعني عيسائي) **رئيسُ الاَطِبَّا** (يعني د ډاکټرانو مشر) د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلاج د پاره راوليږو. هغه په ډېره تَوَجُّه سره د هغوئي علاج وکړو خو څه فائده اونشوه. يوه ورځ **رئيسُ الاَطِبَّا** اُووئيل: اے **شِبلي**(رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه)! که چرې ما ته دا معلومه شي چي زما د بدن په کومه ټکړه کښي ستاسو علاج شته دے نو زه به اسره اونکړم او ستاسو د پاره به خپل هغه اندام پريك کړم.

**حضرت** سَیِّدُنا شبلي رحمۃُ اللہِ علیہ اُوفرمائیل: "زما علاج ستا د یو اندام د کټ کولو په مقابَله کښې په یو ډیر آسان خیز کښې دے." هغه تپوس اوکړو: هغه څه خیز دے؟ اوئې فرمائیل: ته خپل زُنّار کټ کړه او اسلام قبول کړه اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم د خوشحالئ نه به زما مَرَض ختم شي. طبیب فوراً خپل زُنّار کټ کړو، د کفر نه ئې توبه اوکړه، **کلِمَه** ئې اُووئیله او مُسلمان شو، **حضرت** سَیِّدُنا شِبلي رحمۃُ اللہِ علیہ په هُم هغه ساعت جوړ شو او د کټ نه پاڅیدو. خلیفۂ بَغداد ته چې کله دا خبر اورسیدو نو هغه حیران شو او اوئې وئیل چې ما خو **طَبِیب مَرِیض** له لیږلے وو، زه څه خبر ووم چې **مریض** مې **طَبِیب** له لیږلے دے. (رُوحُ البَیان ج2 ص461)

د اللہ پاک دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

# زُنَّار څه ته وائي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! یو تار چې هندو د خپلې مرئ او ترَخ نه راتاؤ کړے وي هغې ته زُنّار یا **جَنِیُو** وائي هم دغه رنګ هغه تار یا زنځیر چې عیسایان، **مجوسیان** (یعني د اور عبادت کوونکي) او یهودیان ئې د ملا نه تړي هغې ته زُنَّار وائي. اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د دې حکایت نه معلومه شوه چې زمونږ اولیائے کِرام رحمہم اللہ السلام به د نیکئ د دعوت، د **مخلوق** د هدایت او د اسلام د خورَوَلو ډیر زیات شوق لرلو، د یو غیر مسلمه د اسلام په قبلَوَلو به هغوئې دومره ډیر خوشحالیدل چې د خوشحالئ نه به کله کله د هغوئې خطرناکې بیمارئ لرې شوې.

مجھے تُم ایسی دو ہمّت آقا  دوں سب کو نیکی کی دعوت آقا
بنادو مجھ کو بھی نیک خصلت  نبیِّ رحمت شفیعِ اُمّت

(وسائلِ بخشش 191)

ما ته راکړئ داسې هِمَّت آقا  چې هر یو ته ورکړم د نیکئ دعوت آقا

جوړ کړئ ما هم نيك خصلت نَبِیِّ رَحمَت شَفِيع اُمَّت
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# خلیفه سُلیمان په ژړا شو

**خليفهٔ** دِمَشق سُلَيمان بن عبد المَلِك اُمَوِي ډير شان و شوکت لرونکے بادشاه وو. هغه يو ځل مشهور مُحَدِّث سَيِّدُنا اِمام طاؤس رَحمَةُ اللهِ عَلَيه خپل بادشاهي دربار ته را اوبلَلو، هغوئي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه موقع اوموندله او د **نيکئ دعوت** ئي ورته پيش کړو، ورته ئي اُوفرمائيل: **اے اَمِيرُالمُؤمِنين! آيا تاسو ته معلومه ده چې د ټولو نه زيات عذاب به په چا وي؟** خليفه اُووئيل: تاسو اُوفرمائي! نو هغوئي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه دا حديثِ پاك اولوستلو: "چا ته چې **الله** پاک په خپل سلطَنَت کښې بادشاهي ورکړه بيا هغه ظُلم اوکړو نو هغه کس ته به د قيامَت په ورځ د ټولو نه زيات عذاب ورکولے کيږي." دا ئي چې واوريدل نو خليفه د **الله** پاک د ويرې نه په لړزان شو او په چغو چغو په ژړا شو تر دې چې په ژړا ژړا په تخت خور وور ځملاستو. د هغه ټولو درباريانو هغه په هُم هغه حالت کښې پريښودو او ترينه لاړل. (مُسْتَطْرَف ج1 ص169)

# د ماتحتو په باره کښې به د ټولو نه تپوس کيږي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د دې حکايت نه دا معلومه شوه چې د بيان د تاثير د پاره څنګه چې د اوريدونکو د پاره د زړه او دِماغو په توجُّه سره اوريدل ضروري دي هم دغسې د مُبَلِّغ د پاره هم **باعمله** کيدل، د اِخلاص نمونه کيدل او د هر قِسمَه حِرص او ذاتي غرض نه پاك کيدل لازمي دي.کوم ځائے چې دا دواړه څيزونه جمع وي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم هَلته به د بيان ښه اثر کيږي، او که په دې دواړو کښې يو څيز کم وي نو بيا به د بيان فائدے حاصلول ګران وي. د دې **حِکايت** نه دا معلومه شوه چې که **بادشاه** ظُلم کوي نو د اور د عذاب د ټولو نه زيات حقدار به وي.کوم خلق چې اِقتدار غواړي هغوئي په يو حقله خپل ځان ځپله ډير زيات

خطرناك غار ته ټيلوَهي. په دې باره كښې دوه **فرامِينِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ: (1) څوك چې د رِعايا ذِمّه دار جوړ كړے شو بيا هغه د رِعايا خير خواهي اونكړه نو هغه د جَنَّت خوشبو هم نه شي موندلے. (بُخاری ج4 ص456 حديث7150) (2) تاسو ټول **نګهبان** [يعني خيال ساتونكي] ئې او د هر يو نه به د هغه د رِعايا (يعني ماتحتو او محكومو خلقو) په باره كښې تپوس كيږي. څوك چې په خلقو **اَمير** جوړ كړے شو هغه **نګهبان** دے، د هغه نه به د هغوئي په باره كښې تپوس كيږي. **سړے** د خپل كور په كسانو **نِګهبان** دے، هغه نه به د هغه د كور د كسانو په باره كښې تپوس كيږي، زنانه د خپل خاوند د كور او د هغه د اولاد **نګهبانه** ده، هغه به د هغوئي په باره كښې جواب وركوي، غُلام د خپل آقا د مال **نګهبان** دے، هغه نه به د هغې په باره كښې تپوس كيږي، **واورئ! په تاسو كښې هر يو نګهبان دے** او د هر يو نه به د هغه د رِعايا (يعني ماتحتو او محكومو خلقو) په باره كښې تپوس كيږي. (صحيح بُخاری ج2 ص159 حديث2554)

## په اِقتدار حاصليدو ژړل

اوس يو **حكايت** واورئ چې د اقتِدار لرونكو د پاره ډير زيات عبرت ناك دے چنانچه په **تارِيخُ الخُلَفاء** كښې دي: عطاء بن اَبي رَباح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضرت سَيِّدُنا عُمَر بن عَبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بي بي **محترمه** فاطِمه بنتِ عبدُالمَلِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها ما ته اُوفرمائيل چې كله حضرت سَيِّدُنا عُمَر بن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته خِلافت حواله شو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه كور ته راغلو، په مُصَلّٰی كښيناستلو او په ژړا شو او دومره ئې اوژړل چې **ګيره مبارَكه ئې په اُوښكو لمده شوه.** ما عرض وكړو: يا اَمِيرَ المُؤمِنين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه! تاسو وَلې ژاړئ ؟اوئې فرمائيل:اے فاطِمه! د مسلمانانو نګراني (يعني خيال ساتل) او د هغوئي د فلاح و بهبود (يعني خير ښيګړې) ټول بوج زما په اُوګو راواچولے شو. زه د بربندو، اوږو، فقيرانو، مريضانو، مظلومانو قيديانو، مسافرو، ضعيفانو، ماشومانو او بال بچه دارو غرض دا چې په مُصيبَت كښې اَخته د خپلې رعايا د ټولو خلقو د خبر اَخستو او د هغوئي د خير ښيګړې په باره كښې غور كووم او دا فِكر كووم چې كه

چرې په هغوئي کښې د يو کس په باره کښې هم الله پاک زما نه تپوس اوکړي او زه جواب ورنکړے شم نو زما سره به څه کيږي! زه هم په دې فِکر کښې ژاړم. (تارِيخُ الخُلَفاء ص189)

## د انګور[يعني کوَر] خوړلو نه هم ويره لرل

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! افسوس! نن صبا عموماً د اِقتدار په ذريعه مال و مَنال (يعني جائيداد او مال) حاصلولے کيږي خو د ربِّ ذُوالجلال عَزَّوَجَلَّ د نيکو بندګانو حال داسې نه وي، د الله پاک د ويرې لرلو په وجه هغوئي په داسې موقع په ژړا ژړا بے حاله شي، دا حضرات يو يو قدم په ډير احتياط اخلي او په هره خبره کښې د الله پاک ويره لري، چنانچه د حضرت سَيِّدُنا عَون بن مُعَمَّر رحمۃُ اللہِ علیہ بيان دے چې يوه ورځ حضرت سَيِّدُنا عُمَر بن عبدُ العزيز رحمۃُ اللہِ علیہ خپلې بي بي محترمې رحمۃُ اللہِ علیہا ته اُوفرمائيل: فاطِمه! که ستا سره يو دِرهم وي نو را ئې کړه، نن مې کوَر خوړلو ته زړه شوے دے، هغې عرض اوکړو: زما سره دِرهم د کوم ځائے نه راغے! آيا تاسو د اَمِيرُالمُؤمِنين کيدو باوجود هم د يو دِرهم حيثِيَّت نه لرئ؟ (هغوئي بے قراره شو او) اوئې فرمائيل: کوَر نه خوړل د دې نه ډير آسان دي چې صبا ما ته د جَهَنَّم زنځيرونه را واچولے شي. (تارِيخُ الخُلَفاء ص471)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## د اَنګورو د آخرت د حِساب ويره

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د حضرت سَيِّدُنا عُمَربن عَبدُ العَزِيز رحمۃُ اللہِ علیہ خوفِ خدا عَزَّوَجَلَّ مرحبا! کوَر بيشکه حلال او پاك دي خو د الله پاک نِعمَت دے او په ورځ د قيامَت د هر نِعمَت حساب ورکول دي، هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ د آخرت د ويَرې په سَبَب کوَر [يعني انګُور] اُونه خوړل. آه! نن مونږ د خوندورو نه خوندور نعمتونه خورو او استعمالوو، او نور د ښو نه ښو نعمتونو په لَټون کښې اُوسو، ښکلي نه ښکلے کور هم ناکافي ګڼړو، او د غټې نه غټه بنګله

(VILLA) حاصلولو په کوشش کښې اُوسو حالانکه د سیپاره 30 سُوْرَۃُالتَّکَاثُر آخرې آیت د اللّٰه پاک ویره لرونکي بے قراره کوي. چنانچه د دَعوتِ اسلامي د مَکْتَبَۃُالْمَدِینه چاپ شوي د ترجَمے والا پاکیزه قرآن ''کنزُ الایمان مع خزائنُ العِرفان'' صفحه 1118 کښې ارشاد شوے دے:

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ یَوْمَىٕذٍ عَنِ النَّعِیْمِ ﴿۸﴾ مفهوم ترجمۀ کنزُالاِیمان: بیا بیشکه ضرور په هغه ورځ به ستاسو نه د نعمتونو په حقله تپوس کیږي. (پ30 سُوْرَۃُالتَّکَاثُر 8)

## د آیت مبارَکه په تفسیر کښې درې اَحادیث

(1) عِکرَمه فرمائي: کله چې دا آیتِ مبارَکه نازل شو نو صحابۀ کِرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: یا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږ سره کوم نِعمتونه دي! مونږ ته خو د وربشو ډوډۍ او هغه هم په نیمه خېټه نصیب کیږي! وحي راغله: آیا تاسو څپلۍ نه په ښپو کوئ؟ یخې اوبه نه څښئ؟ دا هم نعمتونه دي. (تفسیر دُرِّمَنثور ج8 ص613) (2) حضرت مولائے کائنات عَلِیُّ الْمُرتَضٰی شیرِ خدا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د ذکر کړے شوي آیت په تفسیر کښې فرمائي: چا چې د غنمو ډوډۍ اوخوړه او د فُرات یخې اوبه ئې اوڅښلې او د استوګنې د پاره ئې کور هم وي، دا هغه نعمتونه دي د کومو مُتَعَلِّق به چې سوال کیږي. (اَیضاً ص612) (3) جَلِیلُ القدر تابِعي حضرت سَیِّدُنا اِمام مُجاهِد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه د دې آیتِ مبارَکه په باره کښې فرمائي: د دې نه د دُنیا هر خوندور څیز مراد دے. (اَیضاً ص612)

دَ سُوْرَۃُالتَّکَاثُر د ذِکر کړے شوي آخري آیتِ مبارَکه لاندې صدرُ الاَفاضِل حضرت عَلَّامه مَولانا سَیِّد مُحَمَّد نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: کوم [نعمتونه] چې اللّٰه پاک تاسو ته درکړې دي صحت و فَراغ (یعني خوشحالي) او امن و عیش و مال وغیره چې د هغې نه مو په دُنیا کښې خوند اَخستو، [د هغه ټولو] تپوس به کیږي چې، دا څیزونه مو په کوم کار کښې اولګول؟ د هغې مو څه شکر ادا کړو؟ او په شُکر نه ادا کولو باندې به عذاب ورکولے کیږي.

## دوه قِسمه نِعمتونه او د آخرت سوالونه

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رحمۃُاللہِ علیہ دَ سُوْرَۃُ التَّکَاثُر د دي ذِکر شوي آخِري آیت مبارَکه په بیان شوي تفسیر کښې دا هم فرمائي: دَ کَسبي نِعمَت (یعني په خپل کوشش حاصل شوي نِعمَت مثلاً د مِټائي، خوندورو خوراکونو، ښځو شربتونو، ښکلو جامو، دولت او د بادشاهۍ وغیره) په باره کښې به دري تپوسونه کیږي (1) د کوم ځائے نه دِ حاصل کړے وو؟ (2) کوم ځائے دِ خرچ کړو؟ (3) آیا د دې شکر دِ ادا کړے وو؟ وَهبي نِعمَت (یعني د الله پاک له طرفه عنایت شوے نِعمَت چې په هغې کښې د بنده کوشش داخل نه وي. لکه د سپوږمۍ، نمر، لاسو، ښپو، سترګو، غوږونو وغیره) په باره کښې به دوه سوالونه کیږي: (1) کوم ځائے دِ خرچ کړي وو؟ (2) آیا د دې شُکر دِ ادا کړے وو؟ (نُورُالعِرفان ص966)

## آه ! خوندور خوندور خوراکونه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! واقعي د ډیرې ویرې خبره ده، نن مونږه د خوندورو خوندورو خوراکونو او نِعمتونو حِرَص کوو خو په قبر کښې د چینجو خوراك جوړیدل او د آخرت په حِساب کښې د اخته کیدلو ویره مو هیره کړې ده. مونږه ښه نه ښه او خوندور خوراك غواړو او هغه هم ښه تود غواړو، یو خو ”خوندور خوراك“ بخپله نِعمَت او د هغې تود والے دویم نِعمَت، په ساده چائے مو ګزاره نه کیږي، خالِص د پیؤ چائے غواړو، او هغه هم خوږ او تود غواړو، دغسې زمونږ چائے هم د ډیرو نِعمتونو مجموعه جوړ شي! دغه شان حلوه، پراټه، په قِسم قِسم مټایان، قِسما قِسم تازه میوے، وچې میوے، ښکلي خوندورې فالودے، یخ او خوږ مزیدار شربت، د بادام او پستے والا د پیؤ شربت، یخې بوتلې، آئیس کریمونه، کوَچ، پیروې، کسټرډ،کباب، سموسے، تودې تودې پیکوړے، سره کړي مَهیان، د چیلۍ سره کړې غوښه، په سکرو پخه شوې د پتون غوښه، د چرګ تیکے، د سیخ تیکے، برګر او نور ډیر څیزونه زمونږه ادا

لالچي نفس غوارِي اَو خوري خښبي ئِي. اګرچې ذِکر کړے شوي تهول خوراکونه خوړل حلال دي خو د دې او د تهولو نعمتونو به په ورځ د قيامت تپوسونه کيږي. کاش! چې زمونږه د خوراك ښناك شوقين نَفس زمونږ په قابو کښبي راشي. کاش چې! زمونږه د ښو ښو نِيَّتونو نه کولو په صورت کښبي صرف د مزے او خوند حاصلولو د پاره د خوراك ښناك عادت ختم شي.

## د مال خوړلو شوقيان دِ سوچ اوکړي

مونږه د يو څو منټو د خوند د پاره د ځومره غټې خطرے سره **مخامخ** کيږو په دې خبره ځان د دې روايت نه د پوهه کولو کوشش اوکړئ چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 504 صفحو کتاب "**مِنهاجُ العابِدين**"صفحه 141 کښبي **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَيِّدُنا اِمام ابو حامِد **مُحَمَّد** بن **مُحَمَّد** غزالي رحمةُاللهِ عليه فرمائي: منقول دي چې: "بيشکه د ځنکدن سختئ د دُنيا د خوندونو مطابق دي." چا چې زيات خوندونه اَغستي وي په هغه به د ځنکدن تکليف هم زيات وي. (مِنهاجُ العَابِدِين ص94)

## د ځنکدن د سختو يوه نظاره

د **ځنکدن** د سختو يوه نظاره اُوګورئ چنانچه حضرت عَلَّامه جلالُ الدِّين سُيُوطي شافِعي رحمةُاللهِ عليه نقل کوي: مرګ د دُنيا او آخرت په سختو کښبي د تهولو نه زيات سخت دے، مرګ په اَرو د ريبَلو نه، په قينچيانو د پريك کولو نه او د کټوئ د خوټکيدلو نه هم زيات سخت دے. که مړے راژوندے شوے وے او د مرګ سختئ ئې خلقو ته بيان کړې وے نو د هغوئي مزے او خوبونه به تهول ختم شوي وے. (شَرحُ الصُّدُور ص33)

کاش! کہ میں دنیا میں پیدا نہ ہوا ہوتا
قبر و حشر کا ہر غم ختم ہوگیا ہوتا

جاں کنی کی تکلیفیں ذَبح سے ہیں بڑھ کر کاش!
مرغ بن کے طیبہ میں ذَبح ہوگیا ہوتا

آہ! کثرتِ عصیاں ہائے! خوف دوزخ کا
کاش! اِس جہاں کا میں نہ بَشَر بنا ہوتا

شوراُٹھا یہ محشر میں خُلد میں گیا عطّار
گر نہ وہ بچاتے تو نار میں گیا ہوتا

کاش! چې زه په دُنیا کښې نه وے پیدا شوے
د قبر و حشر هرغم به مې وے ختم شوے
تکلیف د ځنکدن، سخت د حلالے نه دے
چې زه وے یو چرګ، په مدینه کښې وے ذبح شوے
آه! کثرت د ګناهونو هائے! اَو ویره د دوزخ
کاش! چې د دې دُنیا زه، بشر نه وے جوړ شوے
شور جوړ شو په محشر کښې، جنّت ته لاړو عطّار
که نه وے بچ کړے آقا، وور ته به وے داخل شوے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ✿✿✿ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نِعمت د حساب په باره کښې نهه لړزوونکي فرامِينِ مصطفٰی

د **فاني** خوندونو نه د ځان بچ کولو جَذبه زیاتولو او د دُنیاوي نِعمَتونو په وجه د آخِرت د کیدونکي حساب نه د ځان ویرولو د پاره زړه درزوونکي نهه **فرامِينِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوګورئ: (1) کله چې د قیامت ورځ شي نو **الله** پاک به په خپلو بندګانو کښې یو بنده را اوبلي او خپلې **مخې** ته به ئې اودروي او د هغه نه به د هغه د عزَّت او مرتبے په باره کښې داسې تپوس کوي څنګه چې به د هغه د مال په باره کښې تپوس کوي. (اَلمُعْجَمُ الاَوسَط ج1 ص140 حدیث448)

(2) بنده چې هر قدم پورته کوي نو په قیامت کښې به د هغه نه تپوس کیږي چې هغه قدم دِ د

څه د پاره پورته کړے وو؟ (تارِيخ دِمَشق ج6 ص54) (3) د قِيامت په ورځ به بنده نه د تهولو نه مخکښې دا تپوس کيږي چې آيا ما ستا بدن تندرسته نه وو ساتلے؟ آيا ما ته په يخو اوبو نه وې موړ کړے؟ (تا د هغې حقونه ادا کړي دي که نه؟) (المُستَدرَك ج5 ص191 حديث7285) (4) مالِك او مَملوك (يعني غلام)، زوج (يعني خاوند) او زوجه [يعني ښځه] به راوستلے شي بيا به د هغوئي حساب کيږي، تر دې چې سړي ته به اُووئيلے شي چې تا په فلانکئ فلانکئ ورځ په خوند اوبه څښلې وې او خاوند ته به اُووئيلے شي چې د فلانکئ ښځې سره نور کسان هم د نِکاح طلبګار وو خو تا د هغې سره نکاح کول اُوغوښتل نو ما هغه تهول پريښودل او ستا نکاح مې ورسره وکړو (آيا تا د دې نِعمتونو حق ادا کړے دے؟) (مَجمَعُ الزَّوائِد ج10 ص633 حديث18390) (5) په قِيامَت کښې به د هر مومِن نه تپوس کيږي تر دې پورې چې د هغه نه به په خپلو سترګو کښې د رانجو اچولو مُتَعَلِّق هم تپوس کيږي. (حِليَةُ الاولياء ج10 ص31) (6) بنده چې کومه خطبه وائي (يعني وعظ او بيان کوي) د دې په باره کښې به هم د هغه نه تپوس کيږي چې د دې نه ستا څه اِراده وه؟ (اَلصَّمت مع موسوعه اِبنِ اَبِي الدُّنيا ج7 ص294 حديث514) (مُبَلِّغِين و مُقَرِّرِين دِ غور اوکړي چې د بيان مقصد د نيکئ دعوت وو يا د بيان صِفَت او د واه واه غوښتنه يا شُهرَت او دولت حاصلول؟) (7) کوم کس چې د څه څيز طرف ته بَلنَه کوي د قِيامَت په ورځ به هغه د هغه د دعوت (يعني بَلَنې) سره اودرولے شي، اګر که يو کس ته ئې دعوت ورکړے وو! (اِبنِ ماجه ج1 ص137 حديث208) (په دې روايت کښې د اِخلاص طرف ته اِشاره ده مثلاً د نيکئ دعوت دِ صرف د **الله** پاک د رضا د پاره ورکړے وو يا څه بل مَقصد دِ وو! اِنفرادي کوشش کوونکي مُبَلِّغِين دِ هم غور اوکړي) (8) قَسم مې دِ وي په هغه ذات د چا په قبضهٔ قدرت کښې چې زما ساه ده، ستاسو نه به چې د کوم يو نِعمَت په باره کښې د قيامت په ورځ تپوس کيږي هغه يخ سورے او ښې کجورې او يخې اوبه دي. (تِرمذی ج4 ص163 حديث2376) (9) په قيامَت کښې به هر مالدار او فقير آرزو [يعني ارمان] کوي چې کاش! په دُنيا کښې هغه سره صِرف **قُوْت** وے. (اِبنِ ماجه ج4 ص442 حديث4140) (**قُوْت** يعني صرف دومره خوراك راسره

وے چې ژوندے پرې پاتې شوے وے او نور هيڅ نه)

## د زيات مال مصيبت هم زيات

(1)حضرت سَيِّدُنا عَبدُ الله بن عَمِيره رحمۃُ اللہِ علیہفرمائي: خومره چې مال زيات وي هغه هُمره به حِساب هم زيات وي. (اَلْبُدُورُالسَّافِرۃ فِی اُمورِالآخرۃ ص264) (2) حضرت سَيِّدُنا ابوذر رضی اللہ عنہ فرمائيلي دي: په قِيامَت کښې به د يو دِرهَم والا په مقابَله کښې د دوو دِرهَمو والا حساب زيات سخت وي. (الزُّھد للامام احمد بن حنبل ص170 حدیث797) (3) جَليلُ القدر تابِعي سَيِّدُنا مُعاوِيَه بن قُرَّه رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائيلي دي: په قيامَت کښې به د تولو نه سخت حِساب د تَندُرست فارِغُ البَال (يعني د ښه حالت والا) کس وي. (تاریخ مَدِینہ دِمَشق ج59 ص271)

صدقہ پیارے کی حیا کا کہ نہ لے مجھ سے حساب
بخش بے پوچھے لجائے کو لجانا کیا ہے(حدائق بخشش)

**شرحِ کلامِ رضا:** زما آقا اعلٰی حضرت رحمۃُ اللہِ علیہپه دي شعر کښې د **الله** پاک په بارګاه کښې عرض کوي: يا **الله** پاکه! د خپل خوږ حبيب صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د شرم و حيا په وسيله! ما په مَحشر کښې بے حِسابه اُوبخښې، زه خو په خپلو ګناهونو باندې د مخکښې نه شرمِنده يم، زما د اعمالو د حساب په اخستو ما نور شرمِنده مه کړې.

امتحاں کے کہاں قابل ہوں میں پیارے اللہ
بے سبب بخش دے مولیٰ ترا کیا جاتا ہے(وسائل بخشش126)

د اِمتِحان کله قابل يم زما خوږه الله
بے سبب اُوبخښې ما ستا پرې څه کميږي مولٰی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# دولسو کالو پورې حساب و کِتاب

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د آخِرَت د حساب مُعامَله ډېره‌سخته ده.د عِبرت د پاره یو حِکایت وړاندې کیږي. واورئ او په زړه کښې اِحساس پیدا کړئ چنانچه حضرت سَیِّدُنا عَبدُ الله بن عَمرو بن عاص رضی اللہ عنہما فرمائي چې: د اَمیرُالمُؤمِنین حضرت سَیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د وَفات نه پس ما ته د هغوئي رضی اللہ عنہ د آخِرت د مُعامَلاتو د عِلم حاصلولو ډیر زیات خواهش وو.

یوه ورځ ما په خوب کښې یو محل اولیدو نو تپوس مې وکړو چې: دا د چا دے؟ فرښتے اُووئیل: ”د حضرت عُمَر بن خَطّاب رضی اللہ عنہ.“ په دې کښې حضرت سَیِّدُناعُمَر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د محل نه بهر ته په داسې حال کښې تشریف راوړو چې هغوئي په ځان یو څادر اچولے وو، داسې معلومیده لکه چې اوس اوس ئې غسل کړے وي. ما عرض اوکړو: مَافَعَلَ اللهُ بِكَ؟ [یعني] الله پاک ستاسو سره څه مُعامَله اُوفرمائیله؟ جواب ئې راکړو: ښه مُعامَله ئې اُوفرمائیله. بیا حضرت عمر رضی اللہ عنہ زما نه تپوس اوکړو: زه چې ستاسو نه جدا شوے یم نو څومره موده اوشوه؟ ما عرض اوکړو: دولس کاله. اوئې فرمائیل: زه ایله اوس د حساب کتاب نه فارغ شوم. (تاریخ مَدینه دِمَشق لِابنِ عساکر ج44 ص483)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

تو بے حساب بخش کہ ہیں بے شمار جرم　　دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا

(ذوقِ نعت، ص18)

بے حِساب مې بخښش وکړې، یم ګنهګار　　په خاطر د مدینے د خوږ سرکار

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# په صحابه کښې د ټولو نه د مالدار صحابي د قيامت د حساب احوال

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د عدل و اِنصاف د پيکر، د پرهيزګارو د اَفسر، د مُتَّقيانو د رَهبر حضرت سَيِّدُنا عُمَر رضی اللہ عنہ دا حکايت مونږ ته ډير درس راکوي. د عشرهٔ مُبَشَّره روښانه ستورے حضرت سَيِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بن عَوف رضی اللہ عنہ چې هغوئي په صحابهٔ کرامو علیہم الرضوان کښې د ټولو نه زيات مالدار وو، د هغوئي رضی اللہ عنہ ټول مال يقيناً حلال وو او د مال زيات والے د هغوئي رضی اللہ عنہ د پاره د غافِله کيدو په مُقابَله کښې د **الله** پاک د ويَرې سبب جوړ شوے وو. د هغوئي رضی اللہ عنہ د قِيامَت د حساب حِکايت هم د عبرت نه ډك دے. واورئ، چنانچه يو ځل سرکارِ عالی وَقار صلی اللہ علیہ والہ وسلم د صحابهٔ کرامو علیہم الرضوان خوا ته تشريف راوړو او اوئي فرمائيل: "اے د مُحَمَّد (صلی اللہ علیہ والہ وسلم) اصحابو! نن شپه **الله** پاک په جَنَّت کښې ستاسو مکانونه او منزلونه او زما د مکان نه د چا مکان خومره لرې دے، دا ټول ما ته اوښودل." بيا خوږ آقا صلی اللہ علیہ والہ وسلم د جَليلُ القدر صحابه کرامو منزلونه د جُدا جُدا بيانولو نه پس حضرت عبدُ الرَّحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ ته اُوفرمائيل: "اے عبدُ الرَّحمٰن (ما اوليدل) چې ته زما نه ډير لرې شوې، تر دې چې ما ته ستا د هلاکت ويره پيدا شوه، بيا لږ ساعت پس ته په خولو کښې لـمبيدلے ما ته را ورسيدې نو زما په تپوس کولو تا اُووئيل: "زه د حساب د پاره حصار کړے شوم، د هغې نه پس زما نه تپوس کول شروع شو چې مال دِ کوم ځائے ګټلے وو او کوم ځائے دِ خرچ کړے وو؟" راوي وائي: حضرت عبدُ الرحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ چې دا واوريدل نو په ژړا شو او عرض ئي وکړو: يا رَسولَ الله! دا سل اُوښان کوم چې نن شپه د مصر نه د تجارت د مال سره راغلي دي، تاسو صلی اللہ علیہ والہ وسلم ګواه جوړووم او دا د مدينے مُنَوَّرے په غريبانانو او يتيمانو صدقه کووم. (تاریخ دِمَشق ج35ص266)

حضرت سَيِّدُنا عبدُ الرحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ د اُمُّ الْمُؤمِنين حضرت سَيِّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رضی اللہ

تَعَالٰی عَنْهَا په خدمت کښې عرض اوکړو: زه ویریږم چې د مال زیاتوالے چرې (په آخرت کښې) ما په هلاکت کښې اخته نکړي! هغې اُوفرمائیل: خپل مال د **اللّٰہ** پاک په لار کښې خرچ کوه.
(الاستیعاب فی معرفۃ الاصحاب ج2 ص389)

## مالدارانو د پاره د فِکر مُقام

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! یقیني طور قطعي د حلال مال لرونکي او خپل حلال مال په دوارو لاسو د **اللّٰہ** پاک په لار کښې د خرچ کوونکي [سَیِّدُنا عبدُ الرحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ] دي لړزوونکي حِکایت باندې مالدارانو ته سوچ او فِکر کول او د قیامت د سختو او خوفناکو احوالو نه ویریدل پکار دي کوم خلق چې صرف د دُنیاوي حِرص په سَبَب مال جمع کوي، او د دې مال د پاره در په در ګرځي او د مال زیاتولو نظام د بهتر نه بهترین جوړوَلو په کوشش کښې وي، هغوئي ته په خپل دې طرزِ عمل باندې غور کول پکار دي او کوم صورت چې د دُنیا او آخِرت دوارو د پاره غوره وي هغه اختیاروَل پکار دي.

## د مال و دولت مُتَعَلِّق ښه ښه نِیَّتونه

**حلال** مال جمع کول په خپل ځائے مُباح دي (یعني نه ثواب نه ګناه).که چرې یو د نیتونو علم لرونکے د دې ښه ښه **نیتونه** اوکړي نو اګرکه هغه د حلال مال په ذریعه ارب پتي جوړ شي نو هُم د هغه مال د هغه د آخِرت د پاره نقصان ورکونکے نه دے. خو **یاد ساتئ!** رَسمي طور صرف په ژبه باندې دَ نِیَّت الفاظ ادا کول نِیَّت نه دے: نِیَّت د زړه پخې اِرادے ته وائي یعني چې کوم نِیَّت کوي هغه د هغه په زړه کښې داسې موجود وي چې زه به 100 فیصده هم دغسې کووم. **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد مُحَمَّد بن مُحَمَّد غزالي رحمۃ اللہ علیہ د مال و دولت په باره کښې د نِیَّت رغبت ورکولو د پاره فرمائي چې: په مال اخستو، پریښودو، خرچ کولو، او ځان سره ساتلو کښې صحیح نِیَّت پکار دے. مال دِ د دې د پاره حاصلوي چې [د دې مال په ذریعه] د **عِبادَت** د پاره مدد حاصل شي، او که مال پریږدي نو د زُهد (یعني د دُنیا نه د

بے رغبتۍ) په نِیَّت دِ هغه حقیر [سپك] ګڼړي او پریږدي. چې دا طریقه اِختیار کړي نو د مال موجود کیدل به هغه ته نقصان نه رَسَوي. ځکه **اَمِیرُالمُؤمِنین** حضرت مولاۓ کائنات، **عَلِیُّ المُرتَضٰی** شیرِخدا رضی اللہ عنہ فرمائیلي دي: ''که څوك د ټولې زمکې مال حاصل کړي او د هغه اِراده د **الله** پاک رضا حاصلول وي نو هغه **زاهِد** (یعني د دُنیا نه بے رغبته) دے او که ټول مال پریږدي خو د **الله** پاک رضا ئې مَقصد نه وي نو هغه **زاهِد** نه دے.'' پس ستاسو ټول حَرَکات و سَکَنات د **الله** پاک د پاره پکار دي او د **عِبادَت** نه بهَر نه دي پکار او یا چې د عبادت د پاره مددګار وي. کوم څیزونه چې د عبادت نه زیات لرې دي هغه طعام خوړل او قضائے حاجت (یعني غټ یا واړه بَول کول) دي، خو دا دواړه هم د عبادت د پاره مددګار دي هله چې په دې کارونو کښې ستا مقصد دا وي یعني [چې په دې کارونو کښې ستا] د عبادت د پاره د طاقت حاصلولو او د زړه د توجُّه حاصلولو **نِیَّت** وي نو دا کارونه به هم ستاسو په حق کښې **عبادت** شي. هم دغه رنګ کوم څیزونه چې ستاسو حِفاظت کوي مثلاً قمیص، اِزار (یعني پرتوګ یا پاجامه) بِستره او لوښي وغیره نو په دې ټولو کښې هم **ښه نِیَّتونه** پکار دي ځکه چې د دِین په سلسله کښې د دې ټولو څیزونو ضرورت وي او کوم څیزونه چې د ضرورت نه زیات وي په هغې د **الله** پاک بندګانو ته د فائدے رَسَوَلو نِیَّت پکار دے او کله چې یو کس ته د دې ضرورت وي نو اِنکار دِ نه کوي څوك چې داسې عمل کوي هغه د مال د مار (دلته مال ته د مار مثال ورکړے شوے دے) نه (د هغه فائِده منده حِصّه یعني) جوهر او تریاق (یعني د زهرو دارُو چې د زهرو اثر ختموي) هم واخستل او (پخپله د مار) د زهرو نه **محفوظه** (هُم) پاتې شو، داسې کس ته د مال زیات والے نقصان نه رسوي خو دا کار صرف هغه کس کولے شي چې د هغه قدمونه په دین مضبوط وي او هغه سره ډیر عِلمِ دِین وي. امام غزالي رحمۃ اللہ علیہ لږ **مخکښې** د مال و دولت نه د بچ کیدو نصیحت کوي او فرمائي: څنګه چې د یو نابینا کس د **بینا** (یعني د لیدونکي) کس په شان د غرونو سرونو او د دریابونو غاړو ته رسیدل او د ازغو په لاره تلل **مُمکِن** نه دي،

هم دغه شان د عام کس د پاره د مال و دولت د آفتونو نه بچ کيدل هم مُمکِن نه دي. (احياءُالعلوم ج3ص325) مال و دولت پرهیزګاره او زیات علم لرونکے که غواړي نو اخستے شي ځکه چې هغه دا د شریعت مطابق حاصلولے او د شریعت مطابق استعمالولے شي او د مال د آفتونو نه ځان ساتلے شي.

## زخمي زړه لرونکے بُزرګ

**حُجَّةُالاسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد مُحَمَّد بِن مُحَمَّد بن مُحَمَّد غزالي رحمۃُاللہِ علیہ نقل کوي: یو بُزرګ رحمۃُاللہِ علیہ ژړل، د خلقو پرې زړه اوسوزیدو او خوا ته ئې را جمع شو او ورته ئې اُووئیل: **الله** پاک دِ په تاسو رحم اوکړي. څه مَسئله ده، وَلې ژاړئ؟ اوئې **فرمائیل**: زما په زړه کښې یو زخم دے او هغه زخم (د **الله** پاک) ویره لرونکي په خپلو زړونو کښې لري، خلقو عرض اوکړو: هغه زخم څنګه وي؟ اوئې فرمائیل: د ھغه پیش کیدو د ویرې زَخم دے کله چې به د قیامَت په ورځ د **الله** پاک په بارګاه کښې د حساب کتاب د پاره د پیش کیدلو اعلان کیږي. (احیاءُالعلوم ج4 ص230)

**د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عیب دنیا میں تُو نے چُھپائے
حَشر میں بھی نہ اب آنچ آئے
آہ! نامہ مرا کھل رہا ہے
یاخدا تجھ سے میری دعا ہے

(وسائلِ بخشش ص134)

زما عیبونه تا پټ کړي په دنیا کښې
هم ئي پټ کړې ته په ورځ د فنا کښې
آه! نامۀ اعمال مې بیرته کیږي
اے الله ستا نه زما دا دُعا ده

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# نَفرت په مَحَبَّت کښې بدل شو

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د معلوماتو زياتولو، صحيح اسلامي عقيدے په ذهن کښې د ساتلو، شيطان لرې زغلَوَلو، د ايمانياتو په باره کښې راتلونکو وَسوَسو نه د ځان خلاصَوَلو، د غفلت د خوب نه د رابيداريدلو، د روحاني خوند حاصلولو او د خپل ځان نه باعمله مسلمان جوړوَلو د پاره د تبليغ قرآن و سُنَّت د عالَمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ او خپل دا مَدَني مقصد چې "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**" د حاصلولو د پاره د خپل ايمان د حفاظت د پاره فکرمند اوسئ، د **لـمونځونو** پابندي جاري ساتئ، په **سُنَّتو** عمل کوئ، د **نيک اعمالو** مطابق ژوند تيروئ او په دې باندې اِستِقامَت حاصلولو د پاره هره ورځ "**د خپلو اعمالو د جائزے**" په ذريعه د "**نيک اعمالو**" رساله ډکوئ او د هرې مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے د شُعبۂ اصلاحِ اعمال ذِمَّه دار ته جمع کوئ او په پابندئ سره هره مياشت کم نه کم درې ورځې د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قافله** کښې عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډک سفر کوئ. راځئ چې ستاسو د ترغيب او تحريص [يعني د نيکو د حِرص راپيدا کولو] د پاره تاسو ته يو **مدني سپرلے** واوروم، د **چيچه وَطني** (ضلع ساهيوال، پاکستان) يو اسلامي ورور د غفلتونو په تيارو کښې د خپل ژوند د تير شوو وختونو په باره کښې څه داسې بيان کوي: زما ژوند په غفلت کښې تيريدو، زما د ژوند په خزان وهلي باغ کښې د رهنمائي او هدايت د سپرلي هوا د **دعوتِ اسلامي** د يو عاشقِ رسول د صحبت په برکت اولګيده، د هغوئي **اِنفِرادي کوشش** زه دعوتِ اسلامي ته ډير نزدې کړم، او ما ديني ماحول سره تړون اوکړو، کله چې زه په اول ځل د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې شريک شوم نو ما د اول نه تر آخِره پورې د بيان اوريدلو سعادت حاصِل کړو، دا هر څه ماته ډير ښه ښکاره شو

خو چې کله په اِجتماع کښې تول اسلامي ورونړه په يو آواز ديوانه وار ذِكْرُ الله کښې مصروف شو نو ما ته بے اختياره خندا راغله چې دا خلق څه د ليونو په شان شروع شو! (اَلعِيَاذُبِالله). زه په داسې بيوقوفانه وسوسو کښې مشغول ووم چې يو دَم د روحانِيَّت يوه داسې چپه راغله چې زه بچپله هم په ذِكْرُالله کښې مشغول شوم او داسې مَست شوم چې د خوا و شا نه بے خبره شوم، او په زړه کښې ئې عجيبه مزه او خوند راکړو، اَلْحَمْدُلِله! د دې ذِکر و دُعا په بَرَکت زما په طبيعت کښې سنجيدګي راغله او د تيرو شوو ګناهونو نه مې توبه اوکړه او د صلٰوة و سُنّت په لاره روان شوم، ما کيره مبارَکه هُم پريښوده او د شنې شنې عِمامے تاج مې هُم په سر کړو، اَلْحَمْدُلِله!په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې راته د اِجتماعي اِعتِکاف د برکتونو حاصلولو سعادت هم حاصل شو، اوس زما والِدِ مُحتَرَم هم ګيره پريښودې ده او د کور ټول کسان په سلسلهٔ عاليه قادِرِيَّه رَضَوِيَّه کښې داخل شوي دي، اَلْحَمْدُلِله!د دې ليك د وخته پورې زه د **نیک اعمال** د خادِم (يعني ذِمَّه دار) په حيثيت د ديني کارونو کولو سعادَت حاصلووم.

اسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کر دیا دیکھو
اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کر دیا دیکھو

هم دې ماحول ډير ادنیٰ، جوړ اعلیٰ کړلو ګورئ
تیاري تیارې وې هر طرف ئې په رڼړا کړلو ګورئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کیدونکې د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتونو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښه ښه نیتونو سره تول شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربيَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د **"فِکرِ مَدينه"** په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com